**د افغانستان بانک**

**د پولیسیاست لوی آمریت**

# د پولي پړسوب میاشتینی راپور

## په هېوادکې د قیمتونو کچې تغییراتو ته بشپړه کتنه

لهم ۱۳۹۹

## لړ لیک

پیژندنه ........................................................................................................ ب

مصرفي توکو د قیمتونو شاخص ................................................................................ ب

په هېواد کې د پېسود پړسوب کچې ته لنډه کتنه: .............................................................. ج

مهم ټکي ........................................................................................................ ۱

د پیسو تولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ لړم میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي. .......................... ۲

**(۱) دخوراکي توکو شاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د جګ قیمتونو ښکارندوی دی.** ................................ ۳

**(۲) غېرې خوراکي توکي کلني پړسوب دلړم په میاشت کې زیاتوالی کړی دی.** ...................................... ۱۰

دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون) ............................................................................ ۱۷

## پېژندنه

د افغانستان بانک د قانون لومړي بند او دويمي مادې پر بنسټ، د افغانستان بانک بنسټيزه موخه په هېواد کې ،د قيمتونو ثبات ساتل دي ،چې له مخې د پېسوسو پړسوب کچه بايد داسې ډول وساتل شي تر څو د خلکو اقتصادي پريکړې اغيزمنې نه کړي.
د افغانستان بانک ،د پېسوسياستونو لوی آمريت ،په هېواد کې د پېسوسياستونو د پلي کېدونکي ارگان په توگه ،د سمو او مناسبو پاليسو د جوړونې او اجراکونې دندې په غاړه لري. دا پاليسې بايد د هيواد د اقتصادي ودې او د مالي ثبات په برخه کې مرسته وکړي .
په يو ټاکلي وخت کې ،د قيمتونو ټوليزې کچې لوړوالي ته د پيسو پړسوب وايي . د يادونې وړ ده د يو يا څو توکو د قيمتونو لوړوالي ته د پيسو پړسوب نه ويلکيږي .
د افغانستان بانک د پېسو سياستونو لوی آمريت په هيواد کې د پېسود پړسوب کچې، د معلوملو لپاره د مصرفي توکو له شاخص څخه گټه پورته کوي .د قيمتونو شاخص په يوه ټاکلې دوره کې د توکو اوچوپړتياوو د قيمتونو د بدلون د اندازه کولو معيار ته ويل کيږي . چې دا معيار د بيلابيلو لارو څخه په گټې اخيستنې سره محاسبه کيږي څکه هره لارهد شاخص په ځانگړو برخو کې بدلونونه څرگندوي.
د پېسو سياستونو لوی آمريت په هېواد کې د قيمتونو کچه وخت ناوخت تر څيړنې لاندې نيسي تر څو د قيمتونو ناغوښتونکې حالت د هيواد په اقتصادي حالت ناوړه اغيز رامينځته نه کړي او د يادونې وړ ده چې د قيمتونو په کچه کې تېز تغيرات د هېواد په اقتصادي ودې ناوړه اغيزه لري نو له دې کبله د پېسو سياستونو لوی آمريت دا ژمنه کوي په هېواد کې به سمې او مناسبې پېسوپاليسی جوړياو پلي کړي . د افغانستان بانک د پېسو سياستونو لوی آمريت دا هڅه کوي چې په هيواد د پيسو د پړسوب کچه د يو عدد په کچه وساتي ،چې په دې ډول د هېواد اقتصادي ودې ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

### مصرفي توکو د قيمتونو شاخص

د مصرفي توکو د قيمتونو شاخص په هېوادکې د کورنۍ لگښتنو د اندازه کولو تر ټول مهم او ټوليز معيار گڼل کيږي دا په داسې حال کې ده چې په نړۍ کې د قيمتونو د بدلون د اندازه کولو لپاره له نورو معيارونو څخه گټه پورته کيږي خو د مصرفي توکو د قيمتونو شاخص يو بشپړ او مهم شاخص دی او د قيمتونو د کچې د اندازه کولو لپاره د يو مهم شاخص په توگه منل شوی دی .
د احصايې او معلوماتو ملي اداره ،چې په هېواد کې د مصرفي توکو د قيمتونو د شاخص د ترتيب دنده په غاړه لري په دې وروستيو وختونو کې يو شـمير مهم بدلونونه رامينځته کړي دي .چې د دې بدلونونو له مخې د سروې گانو سـيمه له لسـو ولايتونو څخه تر شلو ولايتونو پورې پراختيا موندلی ده او همدا رنگه د ونډو په برخه کې هم يو څه بدلون رامينځته شوی دی . د دې تر څنگ په دې څيړنه کې بنسټ کال يا اساس کال هم بدلون موندلی دی چې د زيږديز کال۲۰۱۱ د مارچ مياشـتې څخه ۲۰۱۵ د اپريل مياشت ته بدل شوی دی . چې دا بدلونونه د پوښښ سيمه ډيروي اود يو ټوليز او ښه انځور څرگندونه کوي .په تيريو وختونو کې د خوراکي توکو ونډه په ټوليز شاخص کې ۵۲ سلنه وه خو اوسمهال بيا ۴۸ سلنې ته راټيټه شوې او د غيرې مصرفي توکو ونډه په تير وخت کې ۴۸ سلنه وه چې اوسمهال ۵۲ سلنې ته لوړه شوې ده .چې دا بدلونونه د کورنيو مصرفي توکو په سيستم کې د پام وړ بدلون څرگندوي .دا معلوموي چې د غيرې خوارکي توکو ارزښت تر خوراکي توکو لوړ دی .
د هر توکي ونډه ،د هماغه توکي ونډه د مصرفي توکو په کڅوړه کې څرگندوي چې د ترلاسه کولو لپاره يې مصرفول انعکاسوي . د يو توکي ونډې ډيربښت په هماغه کڅوړه کې د نورو سره پرتله کوي په نوي شـاخص کې د غوښـې ،غوړيو،وچه او تازه ميوو،مصـاله جاتو ،د کور ســامانونه،درملنه ،اړيکي،اطلاعات اوفرهنگ،هوټلونو برخه زياته شــوې ده دا په داســې حال کې چې د غلو او دانو ،شيدی،پنير د چر گانو هگۍ،سابه،خواړه،تنباکو ،جونگړه،ښوونه او روزنه ،ټرانسپورت اود متفرقه برخه کم شوی ده .

## په هېواد کې د پېسود پړسوب کچې ته لنډه کتنه:

کله چې مونږ د پیسو پړسوب اوږد مهاله بدلون په نظر کې ونیسوو، د پیسو پړسوب اړوند زماني توقعات ښاییمثبت او د افغانستان بانک له خوا د کابو کولو وړ وي او دا په هغه صورت کې شوني ده چې پالیسي او پلانونه په داسې ډول طرحه شي چې د عرضې او تقاضاترمنځ خلا او همدارنګه د کورنیو بازارونو تکیه په وارداتي توکو راکمولو لپاره ګټوري وي. اوسمهال افغانستان کې ګڼ شمیر عوامل وجود لري چې د پیسوپړسوب لپاره موثر او د پیسو پړسوب په بدلون کې مهم رول لوبوي. له هغو عواملو څخه یو تر ټولو مهم عامل چې د افغانستان د پیسوپړسوب لپاره موثر دی، بهرنی عامل دی لکه د لویو سوداګریزو شرکاو، د پیسو پړسوب په کچه کېتغیرات چې د هغه له ډلې څخه د پاکستان او ایران نومونه یادولی شو ځکه افغانستان د خپلي اړتیا زیاته برخه له دغو هېوادونو څخه پوره کوي او کورني بازارونه د دغو هېوادونو له وارداتي توکو څخه ډک دي

د کورنیو تولیداتو ټیټه کچه، راکړو ورکړو کې له امریکایي ډالرو څخه استفاده، په هېواد کې د منظم ټرانسپورټی سیستم نشتون، له ګاونډیو هېوادونو سره سوداګریزي او ترانزیتي ستونزې، بازار کې د بشپړ سیالی نشتون(انحصار)، اقتصادي او سیاسي ثبات نشتوالی او د راتلونکې په اړه اندیښنې او بی باوري هغه عوامل دي چې زمونږ هېواد کې د قیمتونو د بدلولونو او نوساناتو لامل ګرځي. له دې ستونزو سره سره، د افغانستان بانک د پیسو سیاست عمومي آمریت په دې واکمن دی چې په هیواد کی د پیسو د پړسوب کچه تر خپل واک لاندې ونیسي .چې له یو رقمي عدد څخه لوړ نشي.



## مهم ټکي

- د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دلړم په میاشت کې ټولیز پرسوب زیاتوالی موندلی دی. د مصرفي توکو قیمتونه د کلني محاسبې پربنسټ ۵,۹۹سلنې تر ۶,۴۳سلنې پورې زیاتوالی ځرګندوي . دازیاتوالی د خوراکي او غیري خوراکي توکو شاخصونو دقیمتونو د زیاتوالي له امله منځ ته را غلی دی.
- د خوراکي توکي شاخص قیمت له ۹,۷۵ سلنې تر ۹,۹۲سلنی پورې زیاتوالی ښیي ، دا زیاتوالی ډیر د( شیدی پنیر او هګۍ ،وچې او تازه میوې، ،سابه او خواړه ) قیمتونو د ډیرښت له امله رامینځته شوي دي .
- په ورته مهال کې د غیرې خوراکي توکو قیمت د روان لمریز لیږد کال د تلې له میاشتې څخه د لړم میاشت پورې له ۲,۴۲سلنې تر ۳,۰۷ سلنه ډیرښت ځرګندوي .
- د غیري خوراکي توکو شاخص دلړم په میاشت کې د زیاتوالي لامل (تنباکو،جامې ،کور، دکور سامانونه، روغتیا ، ،مخابرات، ،ښوونه او روزنه او متفرقه ) برخه دبیې زیاتوالي دي.چې د غیري خوراکي توکو شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی .
- د هستې( خالص) انفلاسیون (۳۰% Mean Trimmed ) هم دلړم‌په میاشت کې بدلون ځرګندوي. خلاصه شوی اوسط یو مهم معیار دهستې( خالص)تورم ګنل کېږي. چې ۵,۴۷سلنې تر ۵,۸۵ سلنېپورې زیاتوالی کړی دی.
- په همدې توګه ټولیز پرسوب د کابل ښار په کچه د کلني بدلون پر بنسټ له ۴,۸۵تر ۶,۲۸ سلنې پورې د لړم په میاشت کې زیاتشوي دی او دمیاشتیني بدلون پر اساس ۰,۶۹نه تر.۲,۶۲سلنې د لړم میاشت کې زیاتوالیکړی دی.
- د کابل په کچه د خوراکي توکو شاخص دکلنیمحاسبې پر بنسټ له ۶,۳۰سلنې تر ۷,۸۱سلنې پورې زیات شوی دی. او د غیر خوراکي توکو شاخص د کلني بدلون پر بنسټ د کابل په کچه له ۳,۹۴سلنې تر ۵,۳۰سلنې پورې ډیرښت ځرګندوي .

### ١- جدول : د پیسو پړسوب د هیواد په کچه

| توکي | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
|---|---|---|---|---|
| | تله١٣٩٩ | لړم١٣٩٩ | تله١٣٩٩ | لړم١٣٩٩ |
| | | | | |
| **ټولیز پړسوب** | ٥,٩٩ | ٦,٤٣ | ٠,٥٢ | ١,١٧ |
| خوراکي توکي او غیري الکولي څښاک | ٩,٧٥ | ٩,٩٢ | ٠,٥٠ | ١,٣٠ |
| غیرې خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | ٢,٤٢ | ٣,٠٧ | ٠,٥٥ | ١,٠٣ |
| ټولیز شاخص د استوګن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او ټرانسپورټ څخه پرته . | ٥,٣٩ | ٦,٣٠ | ١,١٦ | ١,٦١ |
| پیسو پرسوب د خلاصه شوي اوسط (٣٠٪)(لنډیز Trimmed mean) | ٥,٤٧ | ٥,٨٥ | | |
| **دکابل شاخص** | | | | |
| ټولیز پیسو پرسوب | ٤,٨٥ | ٦,٢٨ | ٠,٦٩ | ٢,٦٢ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | ٦,٣٠ | ٧,٨١ | ٠,٥٠ | ٤,٠٤ |
| غیرې خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | ٣,٩٤ | ٥,٣٠ | ٠,٨٢ | ١,٧٠ |

سرچینې : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

### د پیسو ټولیز پړسوب دکلنۍ محاسبې پر بنسټ لړم میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي.

د پیسو ټولیز پرسوب دکلنیبدلونونو پر بنسټ دی. دمصرفي توکو ٦,٤٣سلنې پورې دخوراکي او دزیاتوالي نه سرچینه یې تر اغیزیلاندې




کچه د ١٣٩٩لمریز لیږدیز کال دلړم په میاشت کې زیاتوالبکړې ټولیز پیسو پرسوب له ٥,٩٩ سلنې زیاتوالیخرګندوي. دا زیاتوالی غېرخوراکي توکو دقیمتونو اخیستې ده، چې ټولیز شاخص نیولی دی.




او له بلې خوا، څرنګه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ چې توپیرونه په لندمهاله توګه د څیړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توګه بدلونونه ۰,۵۲سلنې څخه تر کې زیات شوي دي. څېړي د دې محاسبې پر اساس له ۱,۱۷سلنې پورې دلړم په میاشت




### (۱) دخوراکي توکوشاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د جګ قیمتونو ښکارندوی دی.

د احصائې او معلو ماتو ملي اداري د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له ۹,۷۵ سلنې نه ۹,۹۲سلنې پورې زیاتوالی څرګندوي . د دې زیاتوالی اصلي لامل د( شیدی،پنیر هګۍ،وچې او تازه میوې ، اوخواږه) دقیمتونو جګوالیدی.

.

-2 جدول :خوراكي توكي د پېسو پړسوب

| توكي | ونډه (٪) | کلنی بدلون<br>تله۱۳۹۹ | کلنی بدلون<br>لړم۱۳۹۹ | میاشتنی بدلون<br>تله۱۳۹۹ | میاشتنی بدلون<br>لړم۱۳۹۹ |
|---|---|---|---|---|---|
| **خوراكي توكو پړسوب او غيرې الكولي خښاک** | **۴۷٫۸** | ۹٫۷۵ | ۹٫۹۲ | ۰٫۵۰ | ۱٫۳۰ |
| ډوډۍ اوړه غلې دانې | **۱۴٫٦** | ۱۲٫۴۳ | ۱۰٫۹۳ | -۱٫۵۴ | -۰٫۰۵ |
| غوښه | **۷٫۵** | ۱۰٫۹٦ | ۱۰٫۵٦ | ۰٫٦۷ | -۰٫۲۴ |
| لبنیات(شیدی،پنیر،هگی) | **۴٫۷** | ۳٫۳۰ | ۴٫۲۹ | ۱٫۱۵ | ۱٫۰۵ |
| غوړي | **۴٫٦** | ۱۱٫۹۸ | ۱۱٫٦۲ | -۲٫۳۹ | -۰٫۵۱ |
| وچه او تازه میوه | **۵٫۰** | ۱۰٫۵۲ | ۱۴٫۲۵ | -۱٫٦۵ | ۴٫۲۵ |
| سابه | **٦٫۰** | ۱۱٫۹۷ | ۱۳٫۷۵ | ۱۱٫۰۰ | ٦٫۸۳ |
| خواږه | **۲٫۷** | ۳٫۷۴ | ۵٫۷۷ | -۰٫۹۸ | ۱٫۰٦ |
| مصاله | **۱٫۳** | -۲٫۴۷ | -۴٫۹۸ | ۳٫۰۸ | ۱٫۱۲ |
| غيرې الكولي خښاک | **۱٫۴** | ۳٫۵۴ | ۲٫۹۳ | ۰٫۲۵ | -۰٫٦۴ |

سرچینی : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

## د خوراكي توكي شاخص د مياشتيني محاسبې پر بنسټ لړم په مياشت كې زياتوالى ښكاره كوي

د خوراكي توكو شاخص په برخه كې دمیا شتیني بدلون معیار پربنسټ دلړمپه میا شت کې ۱٫۳۰ سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې دا رقم په تيره مياشت كې ۰٫۵۰سلنه سنجش شوی وو. دازیاتوالی دخوراكي تو كو اجزاوو لكه (غله او دانه ، غوړی ، وچې او تازه ميوې ،سابه اوخواږه) دقیمتونو له امله را منځ ته شوی دی.







### دکلني محاسبې پر د غلې دانې قیمتونو

**الـف - ډوډۍ، اوړه او**
۱۴.٦ سـلنه ونډه لري
۱۲,۴۳سـلني نـه تر
میاشـت کې کم شـوی
محاسـبې پر اسـاس د
تلې په میاشـت کې
پـه دوره کې زیـاتوالی

### بنسټ د لړم په میاشت کې کموالی کړی دی

**غلې دانې** چې تولیز پرسـوب
د کلني محا سبې پر بنسټ له،
۱۰,۹۳سـلني پورې دلړم پـه
دی. اوهمدا راز د میاشـتیني
دې برخې شاخص ۱,۵۴-سلنه
تر۰,۰۵-سـلنې پورې د خیړنې
مونـدلی دی. ددې شـاخص

دکمیدلو اصـلي لامل د روان کال په اوړدو کې د هیواد د وریجو ، غنمو او جوارو حاصـلات زیاتوالی ګڼل کیږی چې ددې برخې شـاخص یې تر اغیزې لاندې نیولې.

**ب - غو ښه** په تولیز شاخص کې ۷٫۵ سلنه ونډه لري،د کلني محا سبې پر بنسټ ۱۰٫۹۶ سلنې تر ۱۰٫۵٦ سلنې پورې د لړم په میا شت کی کموالی موندلی دی. او همدا راز دا بدلون د میاشتیني محاسبې پر بنسټ (په لند مهاله توګه)له ۰٫٦۷ سلنه تر ۰٫۲۴-سلنې پورې کم شوی .دهیواد په کچه کې دچرګانو د فارمونو وده کول په ځانګړې توګه باميان ولايت کې چې د چرګانو د غوښې تولید کې ځان بسیاینې ته نږدې کېدل او همدا رنګه د کب ساتلو صنعت پدې ورستیو وختونو کې دهېوا د په بعضي و لایاتو کې ددې لامل ګرځېدلي دی چی په هېواد کې ددې برخې شاخص تر اغېزې لاندې ونیسي.






**ج -** د کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیاتو :(شیدې،پنیراو دچرګانو دهګی)** قیمت چې دمصرفي توکو تولیز شاخص ۴,۷ سلنه جوړوي د کلني محاسبې پر بنسټ له۳,۳۰سلنې تر ۴,۲۹ سلنې پورې د ځیړنې په موده کې زیاتوالی موندلی دی .

او همدا راز د میاشتیني محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له ۱,۱۵سلنې تر ۱,۰۵ سلنې پورې کموالی کړی دی. یو له اصلی دلایلو څخه دا دی چې په عمومي ډول سړه هوا کې د هګیو پیرود لولپاره غوښتنه مخ په ډېریدو ده . او ددې لامل ګرځې دې شاخص باندې مستقیم اغېزه وکړی .

**ح -** د خوراکي توکو یوه مهمه برخه هم د**غوړیو** شاخص دی . چې په تولیز شاخص کې ۴,٦سلنه ونډه لري . د دې برخې شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ د تلېپه میاشت کې له ۱۱,۹۸سلنه تر ۱۱,٦۲ سلنې پورې د لړم په میاشت کې کمشوی دی. او همدا راز،دمیاشتیني

محا سبېپر بنسټ د دې  شاخص قیمت  له ۲٫۳۹- سلنې تر ۰٫۵۱- سلنې زیاتوالی موندلی دی. په هېواد کې د  نباتي غوړیو او دپنبه دانې تولید فابریکې او دزیتون  بنبه دانې او دکنځلې دانې  د د تولید زیاتوالی ددې شاخص دبېې کموالی  لامل گڼل کیږي.

**خ - د وچې او تازه میوې**شاخص چې په ټولیز شاخص کې ۵٫۰سلنه ونډه لري.دکلنی محاسبې پر بنست ۱۴٫۲۵ سلنې ته رسیدلي دي،حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې ۱۰٫۵۲ سلنه سنجش شوی وو .له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې برخې دشاخص قیمت له ۱٫٦٥- سلنې دتلې په میاشت کې تر۴٫۲۵سلنې پورې د لړم په میاشت کې زیاتوالی موندلی دی. ،د هوایی دهلیزونو له لارې په نهه میاشتو کې د افغانستان صادرات د تېر کال دورته میاشت په پرتله ډیروالی ښکاره کول. همدا رنگه دډېری سرې خونې د کار پیل ،کوم چې دتازه میوو ذیرمه کولو ظرفیت لري بازار کې ددې مودې په جریان کې یاد شوي توکي په ارزانه بیه نه پلورل  .دا هغه لاملونه دي چې ددې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندې نیولې دي.




**د - سابو** قیمت  هم د لړم په میاشت کې  زیاتشویده . دا برخه په ټولیز شاخص کې٦٫۰سلنه وزن (ونډه) لري.

او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پیسو تولیز پرسوب تر اغیزې لاندې ونیسي .ددې برخې قیمت د کلنی‌محاسبې پر بنسټ له ۱۱،۹۷ سلنېتر ۱۳،۷۵ سلنې پورې د لړمپه میاشت کې زیاتوالی مونډلی دی.او همدا راز دمیاشتني محاسبې پر بنسټ ددې شاخص قیمت له ۱۱،۰۰سلنې نه تر٦،۸۳ سلنې پورې کمه شوی ده. ددې شاخص دبیې زیاتوالی یو له اصلي دلایلو څخه موسومي اغیزې دي، معمولاً مني موسم په لړ کې ددې شاخص بیه لوړیږي . همدا رنګه ډېرى سړې خونې د کار پیل ،کو م چې د ذخیره کولو ظرفیت لري او په بازار کې ددې موسم په لړ کې ددې لامل ګرځېدلي دیچې یاد شوي توکي په بازار کې په ارزانه بیه و نه پلورل شي.

**ذ - خواږه** چې په عمومي شاخص کې ۲،۷ سلنه ونډه لري ،له ۳،۷۴ سلنېتر ۵،۷۷سلنې پورې د لړم په میاشت کې زیاتوالي کړی دی. او د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې شاخص قیمت له ۰،۹۸-سلنې تر ۱،۰٦سلنې پورې زیا توا لی مونډلې دی.په دې شاخص کې د نرخ لوړیدو اصلي لامل نړیوال بازار نرخونه دي،چې د لړم په میاشت کې د بوري نرخ دتیر کال ورته میا شتی په پرتله ۳،۳۳ سلنه کې لوړ شوی دی.




**ر -** د څېړنې په دوره کې د **مصاله جاتو** قیمت هم د کلني محاسبې پر بنسټ کموالی ښکاره کوي،چې د کلني محاسبې پر بنسټ له ۲،۴۷-سلنې تر۴،۹۸-سلنې پورې کم شوی دی.او همدا راز، د میاشتیني محاسبې پر اساس له ۳،۰۸سلنه کې تر۱،۱۲سلنې پورې کموالی کړی دی.

**ز - غیرې الکولی مشروبات** قیمت دکلني محاسبې پر اساس له ۳,۵۴سلنې تر ۲,۹۳سلنې پورېبدلون کړی دی. همدا راز د میاشتینیمحاسبې پر اساس ،د دې برخې شاخص له ۰,۲۵سلنې تر ۰,۶۴-سلنې پورې دلړم په میاشت کې بدلون په ګوته کوي

ددې شاخص دکمیدلو لامل هم موسمي بدلونونه دي ، داځکه چې ددې مودې په لړ کې د سړې غبر الکولی څښاک پیرود غوښتنه کمیږي، اوددې شاخص قیمت هم کموالی کوي.

.

### ۳-جدول:غیرې خوراکي توکو پړسوب

| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | تله ۱۳۹۹ | لړم۱۳۹۹ | تله ۱۳۹۹ | لړم۱۳۹۹ |
| غیرې خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوې | ۵۲,۲ | ۲,۴۲ | ۳,۰۷ | ۰,۵۵ | ۱,۰۳ |
| سګرت او تنباکو | ۰,۳ | ۳,۱۱ | ۴,۵۰ | ۰,۰۰ | ۰,٦۸ |
| جامې | ۴,٦ | ۸,٦۴ | ۸,۷۲ | ۱,۴۷ | ۲,۱۵ |
| استوګن ځای | ۱۹,۱ | ۰,۵٦ | ۲,۲٦ | ۰,۸۷ | ۱,۷۷ |
| دکور سامانونه | ۱۱,۹ | ۴,۳۰ | ۴,۹۲ | ۰,۰۸ | ۰,٦۱ |
| روغتیا | ٦,۲ | ۷,۴۲ | ۷,۱۹ | -۰,۰٦ | ۰,۴۱ |
| ترانسپورت | ۴,۳ | -۱۲,۲۲ | -۱۳,۰۱ | ۰,۳۸ | -۰,۷۴ |
| مخابرات | ۱,۷ | -۰,۳۳ | ۰,۲۰ | ۰,۳۷ | ۰,۳۹ |
| اطلاعات و فرهنګ | ۱,۱ | ۳,۴٦ | ۲,۱۴ | ۰,۵۹ | ۱,۱۸ |
| ښوونه او روزنه | ۰,۴ | ۵,۲۹ | ۷,۰۲ | ۱,۴۷ | ۰,۷۳ |
| هوټل او رستورانت | ۱,۱ | ۲,۲۲ | -۰,۳۵ | ۰,۰٦ | -۰,۲۳ |
| متفرقه | ۱,۴ | ۹,۵۲ | ۱۰,۵۲ | ۰,۷۸ | ۰,۴۴ |




**(۲) غیرې خوراکي توکي کلني پړسوب دلړم په میاشت کې زیاتوالی کړی دی.**

سرچینې : د احصایې او معلوماتو ملي اداره / دافغانستان بانک

**غېرې خوراکي**توکو شاخص چې د تولیز شاخص ۵۲,۲ سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز  لیږدیز کال د لړم میاشت کې  بدلون راغلی دی او ۳,۰۷سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې۲,۴۲سلنه  سنجش شوی وو. او د دي زیاتوالی لامل( تنباکو،جامې ، کور،دکور سامانونه ، مخابرات او متفرقه) دبیې زیاتیدل ګڼل کېږي.




دمیاشتیني  محاسبې پر بنسټ ددغې برخې  شاخص له ۰,۵۵سلنه  دتلې په میاشت کې تر ۱,۰۳سلنې  پورې دلړم میاشت کې زیاتوالی کړی دی .




**الف - تنباکو** چې په عمومي کڅوړه کې ۰,۳ سلنه ونډه لري دکلني محاسبې پر اساس له ۳,۱۱سلنې تر ۴,۵۰سلنې پورې زیاتوالی کړی دی.

همدا راز د میاشتینیمحاسبې پر اساس، د دي برخي شاخص له ۰,۰۰سلنې تر ۰,٦۸سلنې پورې دلړم په میاشت کې بدلون په گوته کوي ۱۲,۵د سلنه تکس لگیدل دغې توکې باندې د ۲۰۲۰ کال د وری میاشت راهیسې ،چې په پایله کې یو گورس سگرت ( شل قوطی) په اوسط ډول ۳۵ دالر و ته رسیدلي دي.ددي لامل گرځېدلي دي چې دا برخه تر اغیزې لاندې ونیسي.






چې د ټولیز شاخص **ب - جامو** دشاخص قیمت

کې ۴٫٦ سلنه ونډه لري له ۸٫٦۴سلنه تر ۸٫۷۲ سلنې پورې د۱۳۹۹ کال دلړم په میاشت کې زیات شوی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ هم ددې برخې قیمت له ۱٫۴۷سلنې تر ۲٫۱۵سلنې پورې دلړم په میاشت کې زیاتوالی موندلی لکه چې وینو مونږ خپل ډیرې جامې له پاکستان هېواد څخه واردوو ،پاکستان هېواد کې ددې شاخص بیه ۹٫۴۵ سلنه لوړه شوې، او بل لامل یې موسمي اغیزې دی چې ددې څېړنې په لړ کې د ژمي جامو لپاره غوښتنه ډیریږي.

**پ - کور،اوبو ،بریښنااو ګاز** ۱۹،۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلني محاسبې پر بنسټ له ۰،۵۶سلنېتر ۲،۲۶سلنې پورې د ۱۳۹۹کال دلړم پهمیاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي .لکه څرنګه چې ګورو د دې برخې ونډه په ټولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په ټولیز شاخص باندې ډیره اغیزه لري ،له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت د لړم پهمیاشت کې تر۱،۷۷ سلنې پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت په تېره میاشت کې ۰،۸۷سلنه سنجش شوی وه.په هېواد کې د بریښنا ضعیفه خدماتو له امله ،او د ګاز ،لرګیو او نورو د سوند توکو لپاره د سړې هوا له وجې نه د غوښتنې زیاتوالي ، او همدا رنګه د ناامنو ولایاتو نه د کڅ والو راتګ پلازمینې (کابل) ته ، چې دکورونو کرایې زیاتوالي لامل ګر ځېدلي دی. دا هغه دلیلونه دي چې ددغې شاخص بیه یې تر اغیزې لاندې نیولې دی.

**ت - دکور سامانونه** چې ۱۱،۹ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري د تلې په میاشت کې له ۴،۳۰سلنې تر۴،۹۲سلنې پورې دلړم په میاشت کی زیاتوالی موندلی دی او د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له ۰،۰۸سلنه تر ۰،۶۱سلنې پورې دلړم په میاشت کې زیاتشوی.
د کور نیو توکو ډیری برخه د ګاونډیو هېوادونو څخه په ځانګړې توګه له ایران او پاکستان هېوادونو څخه واردیږي او د خامو توکو د بیې د لوړوالي له امله په ایران هېواد کې د کورنیو توکو بیه لوړه شوې ، چې د یاد شوې شاخص نرخ یې لوړ کړي دی. همدا رنګه زمونږ دهیواد سوداګری اړیکې د چین ،هند او ایران هېوادونو سره د ددې مودې په لړ کې کمه شوی ، چې ددې نرخ شاخص د زیاتوالي تر شاه مهم فاکتور ګڼل کیږي.

**ث - روغتیا**شاخص چې په
سلنه ونډه لري، دکلني




٦،٢ کې پرسوب تولیز
محاسبې پر بنسټ د روان

کال دتلې په میاشت کې تر ۷,۱۹سلنې پورې کمه شوی ده، حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې۷,۴۲سلنه ثبت شوې وه.له بلېخوا د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له ۰,۰٦-سلنې تر ۰,۴۱سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي. پدې شاخص کې د نرخونو کموالي اصلي لامل د چین حکومت یو ملیون ډالرو په ارزښت روغتیايي توکي افغانستان سره مرسته کول ، او له بلې خوا افغانستان په کال کې ۹۰ سلنه خپل د اړتیا وړ درمل له ګاونډیو هیوادونو څخه واردوي چې ۷۰ سلنه کې دغه درمل غېر قانوني هیواد ته د مالیې له ورکړې نه پرته واردېږی او دا ددې لامل شوی چې درمل په ارزانه بیه په بازارونو کې وپلورل شي.

ج - **ټرانسپورت** چې د ټولیز شاخص ۴,۳۲ سلنه جوړوي .دکلني محاسبې پر بنسټ د روان کال دلړم په میاشت کې له ۱۲,۲۲-سلنې تر ۱۳,۰۱-سلنې پورې کموالی موندلی دی.

او همدا راز .د میاشتیني محاسبې پر بسټ ،دا برخه د غیري خوراکي توکو شاخص له ۰,۳۸سلنې تر۰,۷۴-سلنې پورې کموالی کړی دی.
ددې شاخص دبیې زیاتوالي اصلي لامل په عامه ترانسپورت کې د کوید ۱۹ ناروغۍشتون ډار په بازارونو کې بایسکیلونو ته ډېرو غوښتنې لامل ګرځېدلې ددې برخې زیاته غوښتنه او همدا راز د تیر کال د ورته میاشتی په پرتله په نړیوال بازار کې د خامو او ډیزلو تیل په ترتیب سره ۳۰-و ۳٦- سلنې ته را ټیټ شوي .

ح - د**مخابراتو**شاخص په ټولیز شاخص کې ۱,۷ سلنه ونډه لري د کلنيمحاسبې پر اساس د مخابراتو قیمت تر۰,۲۰سلنې پوربزیات شوی دی.
حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې هم ۰,۳۳- سلنه سنجش شوی وو. او همدا راز د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمت له ۰,۳۷سلنې تر ۰,۳۹ سلنې پورې زیاتوالی کړی دی.




خ - او همدا رنګه **اطلاعات او فرهنګ** چې ۱,۱ سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ،ددې ښکارندوی دی چې په ټولیز شاخص باندې ډېر لږ اغیزه کړې.او د دې شاخص قیمت د کلني محاسبې پر اساس له۳,۴٦سلنې نه تر ۲,۱۴ سلنېپورې کموالی موندلی دی، او د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له ۰,۵۹سلنې ۱,۱۸سلنې پورې زیاتوالی ښکاره کوي.
ددې شاخص بیې د کمیدو اصلي دلیل په کابل کې د کاغذ دتولید دلمړنې فابریکې دفعالیت پیل دی ، دا فابریکه ددې وړتیا لری چې هره ورځ ۱۲۰ ټن کاغذ تولید کړې.




محاسبې پر بنسټ **د - ښوونې او روزنې** شاخص د کلني
چې له ۵٫۲۹سلنهد تلې په میاشت کې تر ۷٫۰۲سلنه پورې د څیړنې په دوره کې زیاتوالی کړی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پراساس دا شاخص له۱٫۴۷سلنې تر۰٫۷۳سلنې پورې کمښت څرګندوي

انګلیسی او ساینسي مضامینو ته په کورسونو کې د غوښتنې زیاتوالی د ذکر شوي شاخص په فیس کې زیاتوالی ددې لامل ګرځېدلی چې ددې شاخص بیه تراغیزې لاندې ونیسې .

**ذ - رستورانټ او هوټل**د شاخص قیمت دتلې په میاشت کې له ۲٫۲۲ سلنې تر۰٫۳۵-سلنې پورې د روان کال د لړم میاشت کې کموالی کړی دی. همدا راز دمیاشتیني سنجش پر بنسټ دا شاخص د غېرې خوراکي توکو له برخې نه له ۰٫۰٦سلنه تر۰٫۲۵- سلنې پورې د څیړنې په دوره کې کمښت کړی دی.ددې شاخص نرخ کمولو یو مهم دلیل د څیړنې په موده کې د غلې دانې ،حبوباتو غوړیو اوغوښې د بیې کموالي ګڼل شوی

ر - او همدا راز د **متفرقه** برخې شاخص د روان کال د تلې په میاشت کې له ۹,۵۲سلنې تر۱۰,۵۲سلنې پورې د لړم په میاشت کې زیاتوالی کړی دی. او همدا راز د میاشتیني سنجش پر بنسټ له ۰,۷۸سلنې تر ۰,۴۴سلنې پورې کمښت کړی دی.

## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هېواد کې د هستې انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو تولیزې کچې کچې باندې د کنترول ښکارندویي کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون دکچې زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښو له امله اغیزمن کیږي. استفاده کیږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوې چې په غېرر عادي توګه قیمت یې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کیږي تر څو پورېپه ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي .

د هستې انفلاسیون د معلوموملو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%۳۰ ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کیږي . د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د ۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال دتلې پهمیاشت کې له ۵,۴۷سلنې تر ۵,۸۵ سلنې پوربدلړم په میاشت کې کم شوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له**لګبنتي توکو شاخص بې د ډوډی ،غوړي او ترانسپورت** څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس ۶,۳۰سلنې ته د لړم په میاشت کې دا رقم په تېره میاشت شوی وو. د دې معیار له مخې د بسټ له ۱,۱۶سلنې تر۱,۶۱سلنې کوي.

رسیدلی دی حال دا چې کې۵,۳۹سلنه سنجش میاشتیني محاسبې پر پورې زیاتوالیښکاره

